مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۳** (از اول الی هشتم سنبله ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## په دې ګڼه کې:

- مقدمه ........ ۳

**د افغانستان ۱۳ کلنه جګړه؛ درانه تلفات او ناسم امار** ........ ۴

- د بهرنیو ځواکونو بریدونه ........ ۵
- د بې پیلوټه الوتکو بریدونه ........ ۵
- پر ملکیانو د بهرنیو ځواکونو د بریدونو موخې ........ ۷
- افغان ځواکونه او د سیمه ییزو پولیسو جوړښت ........ ۷
- د دولت وسله وال مخالفین او مرموز بریدونه ........ ۸





ACKU

**تلفات جنگ افغانستان و آمار نادرست ارگان‌های بین‌المللی ................................. ۹**

- عدالت انتقالی ............................................................................... ۱۰
- تلفات شهروندان نظامی و غیرنظامی افغان .......................................................... ۱۰
- تلفات نیروهای خارجی ............................................................................. ۱۱








# مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، په افغانستان کې د روانې جګړې د بشري زیانونو او په دې جګړه کې، چې نژدې دیارلس کاله یې پوره کېږي، د بهرنیو او افغان ځواکونو، د دولت د وسله والو مخالفینو او ملکي وګړو د مرګ ژوبلې او وروستیو پېښو په اړه د شتراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل د بورډ شننې لولئ.

د تېرې دیارلس کلنې جګړې اصلي قربانیان افغانان دي او په دې جګړه کې افغانانو ته خورا زیات تلفات وراوښتي دي؛ خو د تلفاتو د شمېرو په اړه یې خپرېدونکي راپورونه په بشپړ ډول له حقیقته لرې او تبلیغاتي بڼه لري. په جګړه کې د ملکي تلفاتو پړه تر ډېره یوازې د دولت پر وسله والو مخالفینو وراچول کېږي، په داسې حال کې چې په تېرو ۱۳ کلونو کې د بهرنیو ځواکونو بریدونه او بمباری د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د لوړې کچې یو اصلي عامل و.

په دې وروستیو کې یو ځل بیا هم د امریکایي بې پیلوټه الوتکو بریدونو زور اخېستی او د بهرنیو ځواکونو په بریدونو کې د ملکي تلفاتو د زیاتېدو ترڅنګ، په ځینې مواردو کې پر افغان ځواکونو هم هوایي بریدونه شوي دي.

دا چې د بهرنیو ځواکونو د دغه راز بریدونو موخې څه دي؟ په روانه جګړه کې د ښکېلو لورو چلند څه ډول دی؟ او په راتلونکي کې به د دې جګړې د تلفاتو په اړه څرنګه قضاوت کېدای شي؟ د دې اوونۍ په تحلیل کې څېړل شوي دي.

ACKU

# د افغانستان ۱۳ کلنه جګړه؛ درانه تلفات او ناسم امار



په افغانستان کې د امریکا او ناټو د رواني جګړې نږدې ۱۳ کلونه پوره کېږي. ۱۳ کاله وړاندې د سپټمبر په ۱۱مه، کله چې د القاعدې شبکې له خوا په نیویارک او واشنګټن کې خونړي بریدونه وشول، له هغې پېښې کابو یوه میاشت وروسته (د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۷مه) د امریکا له خوا پر افغانستان د بریدونو او جګړې پیلولو فرمان صادر شو.

که څه هم په دې جګړه کې د امریکا او ناټو پوځیانو ته هم درنه مرګ ژوبله اوښتې؛ خو د جګړې اصلي قربانیان افغانان دي، چې تر بېلابېلو نومونو لاندې لاهم په دې جګړه کې د امریکا د دسیسو ښکار دي.

د دغې جګړې د تلفاتو کچه خورا لوړه ده؛ خو د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کره او رښتیني شمېرې نشته دي. دا چې ولې په افغانستان کې د باور وړ آمار نه دي خپاره شوي؟ څو لاملونه لري؛ کوم نړیوال ارګانونه چې په دې اړه وخت ناوخت راپورنه خپروي او د جګړې د قربانیانو آمار ورکوي، لکه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي دفتر (یوناما)، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، نورې نړیوالې ادارې لکه د ښښنې نړیوال سازمان... کاملاً په طرف کې واقع دي او د عامه اذهانو د کنټرولولو د آلو په توګه کارول کېږي.

همدا راز افغان دولت په خورا لوړه کچه په فساد کې ښکېل دی؛ ظرفیت، حاکمیت او د سرشمېرنې او آمارو د وړاندې کولو معیارونه نه لري. کومې خصوصي نړیوالې ادارې چې د جګړې د تلفاتو شمېرې وړاندې کوي، هغوی هم د امریکا او نورو لوېدیزو هېوادونو تر اغېز لاندې دي او د همغوی له خوا یې مالي سرچینې برابرېږي؛ ترڅنګ یې کومې افغاني ادارې هم، چې دلته د آزادو ادارو په نوم فعالیت کوي، د جګړې په لورو پورې، په یو نه یو ډول تړلې دي، چې له همدې کبله، د دغو تلفاتو د رښتینو شمېرو د ورکولو هېڅ باوري سرچینه نشته او ټول هغه امار چې د جګړې د قربانیانو په تړاو خپرېږي، له تحقیقاتو او حقیقتونو لرې، یوازې د تبلیغاتي حربې په توګه کارېږي.

په دې جګړه کې که له يوې خوا د جګړې ښکېلو لورو (بهرنيو او افغان ځواکونو او وسله والو مخالفينو) ته درنه مرګ ژوبله اوښتې؛ خو له بلې خوا د جګړې د ټولو ښکېلو لورو له خوا، بې ګناه ملکي وګړي هم په ډېر بې رحمانه ډول د دې جګړې ښکار ګرځېدلي دي. ملکي وګړي په دې جګړه کې د بېلابېل ډوله چاودنو ښکار شوي، په بمباريو او چاپو کې وژل شوي، د سپر په توګه کارول شوي، له محاکمې پرته له خلکو سرونه پرې شوي... چې له بده مرغه دا لړۍ لاهم روانه ده.

په وروستيو څو مياشتو کې د جګړې د ښکېلو لورو او همدا راز ملکي تلفاتو کچه يو ځل بيا لوړه شوې او ډېرى هغه پېښې چې درانه تلفات يې اوړي، د توطئو او دسيسو بڼه لري.

## د بهرنيو ځواکونو بريدونه

له ۲۰۰۱ کال راهيسې کله چې نړيوالو ځواکونو پر افغانستان بريد وکړ، تر نن ورځې پورې د دوى په پوځي عملياتو، هوايي بريدونو او چاپو کې په لوړه کچه ولسي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د ودونو په مراسمو بمبارۍ وشوې، د بې ګناه وګړو پر کورونو شپني او خپلسري عمليات وشول، د بې پيلوټه الوتکو له لارې قصدا او يا هم د ناسمو استخباراتي معلوماتو له امله ملکي وګړي په نښه شول، په امريکايي ځواکونو پورې تړليو ځانګړو ځواکونو په عملياتو او جناياتو کې ګڼ ملکي افغانان ووژل شول او يو زيات شمېر بې ګناه افغانان په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو پټو او ښکاره زندانونو ته يوړل شول، چې دې ټولو د بهرنيانو ترخنګ د افغان دولت پر وړاندې هم د خلکو کرکه زياته کړه.

بهرنيو ځواکونو د خپلو وسله والو مخالفينو د ځپلو ترخنګ، وخت ناوخت پر افغان ځواکونو هم بريدونه کول او د معمول په څېر يې تېروتنه بلله، چې وروستۍ پېښه يې هم څو ورځې مخکې په پروان ولايت کې، د پوليسو پر يوه پوسته د بهرنيو ځواکونو په يوه هوايي بريد کې، د دريو پوليسو د وژل کېدو او يوه بل د ټپي کېدو وه.

## د بې پيلوټه الوتکو بريدونه

که څه هم د بې پيلوټه الوتکو په کارولو ځينې امريکايي جنرالان ډېر ټينګار لري؛ خو د دغو الوتکو په بريدونو کې ملکي وګړو ته د پراخې مرګ ژوبلې اوښتو له کبله، له تېرو څو کلونو راهيسې ځينې امريکايي چارواکو او د بشري حقونو مدافع سازمانونو، د دغو الوتکو پر کارولو کلکې نيوکې کړې دي، چې په افغانستان کې هم د دغو الوتکو په بريدونو کې، ولسي وګړو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې او لاهم دوام لري.

ACKU

په وروستیو کلونو کې ځینې فشارونو، په تېره د ولسمشر کرزي غبرګونونو د بهرنیو ځواکونو له خوا د ولسي وګړو د مرګ ژوبلې په کچه کې تر یوه بریده کمښت راوست؛ خو له یو شمېر وروستیو بریدونو داسې ښکاري، چې د بهرنیو ځواکونو بریدونو یو ځل بیا هم هماغه پخوانی رنګ اخېستی او یوازې تېره میاشت د امریکایي ځواکونو د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې لسګونه ولسي وګړي وژل شوي دي.

کابو دوې اوونۍ وړاندې په نورستان کې د امریکایي ځواکونو په بمبارۍ کې ۴۱ تنه ولسي وګړي، چې د خپلو څمکو د حاصلاتو په راټولولو بوخت وو، ووژل شول. که څه هم په لومړي سر کې د دغه ولایت ځینې چارواکو هم دغه وژل شوي کسان، کورني او بهرني جنګیالي بللي وو؛ خو وروسته د نورستان والي هم دا ومنله، چې وژل شوي کسان ټول ولسي وګړي وو او عملیات له دوی سره له همغږۍ پرته ترسره شوي دي.

د بهرنیو ځواکونو دغو بې رحمانه بریدونو او وژنو د تېرو کلونو په اوږدو کې د افغان ځواکونو په لیکو کې هم د بهرنیانو پر ضد کرکې راوپارولې، چې له امله یې پر بهرنیانو غچ اخېستونکي بریدونه هم وشول، ان تر دې چې په ۱۳۹۱ کال کې یوې ښځینه پولیسې هم په کابل کې د امریکایي پوځیانو یو مشاور، په مخامخ ډزو سره وواژه.

تېره میاشت هم کله چې د هرات په شینډنډ ولسوالۍ کې د امریکایي ځواکونو په بمبارۍ کې د ښځو او ماشومانو په ګډون څلور تنه ملکي وګړي ووژل شول او د سیمې خلکو د پراخ لاریون پر مهال مړي د هرات ولایت مقام مخې ته راوړل، د کابل په قرغې سیمه کې په یوه روزنیز مرکز کې یوه افغان پوځي، په افغانستان کې د امریکا تر ټولو ستر جنرال په مخامخ ډزو کې وواژه.

دغه راز په تېرو څو ورځو کې د امریکایي بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې، د لوګر په مرکز پل علم کې څلور تنه ملکي وګړي ووژل شول او درې نور ژوبل شول، په همدې ډول د کندهار په خاکرېز ولسوالۍ کې هم درې تنه ملکیان ووژل شول او دې ته ورته، په ځینې نورو سیمو کې هم په همدغسې بریدونو کې ولسي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته، چې له دغو بریدونو وروسته ولسمشرۍ مانۍ هم د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره له بهرنیو ځواکونو، د ملکي وګړو د وژلو د سملاسي بندولو غوښتنه وکړه.

بهرني ځواکونه د دغه راز بریدونو پر مهال، یا خو انکار کوي، یا یې په ناسم ډول توجیه کوي او یا هم یوه د ملنډو په څېر ښښنه غواړي؛ وروستی ځل هم کله چې د هرات په شینډنډ ولسوالۍ کې د ولسي وګړو د وژنې خبره له توجیه کولو ووتله، په لوېدیځ زون کې د آیساف قوماندانۍ د دې پېښې له امله د شینډنډ له خلکو ښښنه وغوښته؛ خو آیا تشه ښښنه هم یوه فاجعه توجیه کولی شي؟ په داسې حال کې چې په تېرو کلونو کې څرګنده شوه، چې که بهرني ځواکونه وغواړي، نو هېڅ ملکي وګړي ته به، د دوی په عملیاتو کې زیان ونه رسېږي.

ACKU

## پر ملکیانو د بهرنیو ځواکونو د بریدونو موخې

ډېرې شنونکي د بهرنیو ځواکونو د دغه راز عملیاتو او قصدا د ملکي وګړو د وژلو هدف دا بولي، چې خلک د حکومت پر ضد راوپارېږي او په لوی لاس د ولس او حکومت تر منځ واټن زیات کړي؛ ځکه د دوی په وینا، چېرته چې د دولت وسله وال مخالفین ډله ییز بریدونه کوي او افغان ځواکونه له ایساف ځواکونو هوایي مرسته غواړي، هلته هېڅکله هم بمبار نه کوي. د دوی په اند، د بهرنیو ځواکونو خپلسري عملیات او د هغوی له خوا د ملکي وګړو د وژنې چاره، له هځو سره سره هم، د افغان دولت له کنټروله وتلې ده.

ډېرې افغانان اوس په دې باور دي، چې همدغو ړندو بمباریو، د بې ګناه کسانو نیولو او وژلو، وحشتونو او کرکو، د افغان دولت پر ضد د وسله والو مخالفینو د جګړې لیکې پیاوړې کړې دي.

له بلې خوا په تېرو څو کلونو کې څرګنده شوه، چې د امریکایي ځواکونو له خوا د معمول په څېر له افغان حکومت سره د مخالفتونو له زیاتېدو سره، ورته بریدونه شوي او ملکیانو ته درنې مرګ ژوبلې پکې اوښتې دي. دغه بریدونه په یو ډول د سیاسي فشارونو د واردولو وسیله هم ګرځېدلې او بهرني ځواکونه له دې لارې د خپلې سیاسي لوبې اهداف تعقیبوي.

## افغان ځواکونه او د سیمه ییزو پولیسو جوړښت

امریکا په افغانستان او عراق کې د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره، د قومي او مذهبي جګړو اور ته هم لمن وهلې ده. په افغانستان کې د سیمه ییزو پولیسو تر نامه لاندې جوړښت د همدغې توطئې یوه برخه ګڼل کېږي، چې له افغان ځواکونو سره یې د دولت د وسله والو مخالفینو په څېلو کې د مرستې پر ځای، د خلکو کرکې راپارولې دي او په لرې پرتو سیمو کې د ناامنیو او ملکي خلکو د وژلو او ځورولو اصلي عامل بلل کېږي.

د سیمه ییزو پولیسو د جوړښت په تړاو، له هماغو لومړیو وختونو څخه د مدني ټولنې، خلکو او ځینې افغان چارواکو د مخالفت غبرونه اوچت شوي، چې په دې ورځو کې هم په ولسي جرګه کې د فاریاب ولایت وکیلانو، سیمه ییز پولیس په دغه ولایت کې د ناامنیو اصلي عامل او ناکام سیاست بللی دی.

سیمه ییز پولیس نه د افغان دولت له قوانینو سره سم روزل شوي او نه هم داسې کسان پکې جذب شوي، چې په سیمه کې ښه مخینه ولري، چې له همدې امله دا جوړښت هم د افغانانو د مرګ ژوبلې د کچې د لوړوالي یو بل اساسي عامل بلل کېږي.

افغان ځواکونو هم، د دوی په لیکو کې د قومي، ژبنیو... ستونزو له کبله، په هغو سیمو کې چې د افغان دولت تر ولکې لاندې دي، زیات جنایتونه کړي او ان په لویو ښارونو کې هم په جنایي جرمونو کې ښکېل بلل کېږي.

## د دولت وسله وال مخالفین او مرموز بریدونه

د دې ترخنګ چې په تېره ۱۳ کلنه جګړه کې د افغان او بهرنیو ځواکونو له خوا د دولت وسله والو مخالفینو ته هم درنه مرګ ژوبله اوښتې؛ خو د وسله والو طالبانو او نورو دولت ضد مخالفینو له خوا د ځای پر ځای شوو ماینونو په چاودنو او نورو بریدونو کې هم د افغان او بهرنیو ځواکونو ترخنګ، یو زیات شمېر بې ګناه افغانان وژل شوي او ټپیان شوي دي.

له بلې خوا د وسله والو طالبانو تر نامه لاندې مرموزو خونړیو بریدونو کې، چې ډېری وختونه وسله والو طالبانو هم غندلې دي، تل بې ګناه افغانان قرباني شوي، چې په تېره میاشت کې د پکتیکا په ارګون ولسوالۍ کې شوی خونړی برید یې، د بېلګې په توګه یادولی شو.

د شنونکو په اند، د دغو بریدونو تر شا سیمه ییزې او نړیوالې استخباراتي کړۍ لاس لري، چې د دوی په باور، د افغانستان په روانه جګړه کې بېلابېلې ډلې په بېلابېلو لورو پورې تړلې دي؛ خو عمومي افکار یوازې پر طالبانو مصروف ساتل شوي دي. د لوېدیځ استخباراتي کړۍ د بلک واټر تر چتر لاندې بریدونه کوي او په روانه جګړه کې خپل اهداف تعقیبوي. ډېرې پېښې د دې ښکارندویي کوي، چې د لوېدیځ استخباراتي شبکې په دغو جګړو کې خپلې وسله والې ډلې هم لري او له نورو ډلو هم کار اخلي.

په دې توګه افغانان له تېرو ۱۳ کلونو راهیسې د ډېرو داسې بریدونو قرباني دي، چې بهرنۍ استخباراتي کړۍ یې د خپلو سیاسي لوبو د مخته وړلو لپاره ترسره کوي او د غربي رسنیو او په هېواد کې دننه په دوی پورې اړوندو رسنیو او کړیو له لارې یې، په اړه سرچپه تبلیغات کوي.

# تلفات جنگ افغانستان و آمار نادرست ارگان‌های بین‌المللی




آمار نشر شده در سال‌های گذشته از سوی ارگان‌ها و سازمان‌های بین المللی نشان می‌دهد که نشر آمار قربانیان جنگ در افغانستان، تنها و تنها جنبۀ تبلیغاتی دارد. در مورد تلفات جنگ جاری بررسی‌های دقیق صورت نگرفته و اداراتی که در این خصوص فعالیت داشته‌اند قابل اعتماد نبوده و در کل همه‌ای این ادارات به نحوی در طرف واقع بودند.

از نشر آمار تلفات جنگ در سال‌های گذشته پیداست که این آمار به هدف مغشوش کردن اذهان عامه نشر گردیده و با حقایق همخوانی ندارد. به گونۀ مثال گزارش‌های دفتر سیاسی ملل متحد در افغانستان (یوناما) همیشه نشان می‌دهد که بیشترین تلفات به افراد ملکی، از سوی طالبان مسلح وارد می‌گردد، هرچند در حملات طالبان مسلح تلفات سنگینی به افراد ملکی وارد می‌گردد، اما یوناما در خصوص تلفات ملکی از سوی نیروهای خارجی آمار خنده‌آور را نشر می‌کند، تا از این طریق افکار عامه را منحرف کنند، طالبان مسلح را توسط مردم سرکوب نمایند و از این طریق تلاش دارد تا روی جنایات ضد بشری نیروهای خارجی پرده بیاندازد. در حالی که نیروهای خارجی، افراد ملکی را حتی به گونۀ دسته جمعی مورد حملات قرار داده و بیشترین تلفات را در ۱۳ سال گذشته به افراد ملکی وارد کرده‌اند.

بدین ترتیب آمار جهت‌هایی که تا حدی بی‌طرف پنداشته می‌شوند و آمار تلفات جنگ افغانستان را نشر کرده اند، نیز بر اساس بررسی‌های دقیق نبوده و آمار تخمینی را نشر کرده‌اند؛ اما به طور کلی در این جنگ تحمیلی ده‌ها هزار نفر کشته و صدها هزار نفر زخمی شده اند.

ACKU

## عدالت انتقالی

در جوامعی که برای تامین عدالت از لحاظ زمانی و مکانی شرایط مساعد نباشد، برای بررسی جنایات انجام شده در زمان جنگ از لحاظ مکانی و یا زمانی انتقال عدالت صورت می‌گیرد. به گونۀ مثال، از لحاظ مکانی بیشتر دوسیه‌های جنایات جنگی به محکمۀ بین‌المللی جنایی هاگ در هالند انتقال می‌گردد و از لحاظ زمانی نیز با مساعد شدن شرایط در یک جامعه، جنایات جنگی به بررسی گرفته می‌شود و مجرمین آن محاکمه می‌شوند.

در مورد محاکمۀ مجرمین جنگی سه دهۀ اخیر در افغانستان نیز پس از سرنگونی رژیم طالبان فیصله صورت گرفت که جرایم جنگی دوره‌های مختلف دهه‌های اخیر بررسی گردیده و مجرمین آن باید به میز محاکمه کشانده شوند؛ اما بالعکس همه‌ای آن مجرمین در سال‌های گذشته در رأس قدرت بودند و در ۱۳ سال گذشته نیز بجای آنکه جنایات تحت بررسی قرار بگیرد، حتی موارد و آمار تلفات و جنایات جنگی ثبت نگردیده و یا هم به گونۀ نادرست و غیرواقعی ثبت گردیده است.

در ماه سپتامبر ۲۰۱۳ میلادی لوی سارنوالی کشور شاهی هالند اسمای حدود پنج هزار تن از آن عده افغان‌های را که طی سال‌های ۱۳۵۷ و ۱۳۵۸ هجری شمسی بنام‌های مختلف از سوی رژیم کمونیستی کشته شده اند، افشاء کرد؛ اما برای محاکمۀ مجرمین آن هنوز هیچ کاری صورت نگرفته است. ولی آمار و مجرمین جنایات جنگ ۱۳ سال گذشته اصلاً مشخص نگردیده است که در گزارش اخیر سازمان عفو بین‌الملل یا امنستی انترنشنل، نیز به این مسئله اشاره شده است. در این گزارش آمده است که نیروهای بین‌المللی روحیۀ حسابدهی در مورد تلفات افراد ملکی ناشی از عملیات و بمباردمان‌های آنها را ندارد و حتی جنایت‌های جنگی مشهود نیز مورد بررسی قرار داده نشده و مجرمین آن مجازات نشده‌اند.

کمیسیون مستقل حقوق بشر نیز آمار ضد و نقیض و دور از حقیقت را نشر کرده و فعالیت‌های آن به گونۀ مدافعین بشر نه، بلکه با نشر گزارش‌های دور از حقیقت شکل ضد بشری را بخود گرفته است. فعالیت‌های جامعۀ مدنی در رابطه با تأمین عدالت انتقالی نیز، تا پروژه‌های مقطعی محدود بوده و مؤثریت در فعالیت‌های آن وجود نداشت.

## تلفات شهروندان نظامی و غیرنظامی افغان

آماری که از سوی طرف‌های درگیر جنگ (طالبان مسلح و ارگان‌های امنیتی افغانستان) در مورد تلفات روزمره، به نشر می‌رسد و همه روزه از کشته شدن ده‌ها بلکه صدها نفر سخن می‌گویند، اگر محاسبه شود، شمار تلفات جنگ افغانستان در ۱۳ سال گذشته، به صدها هزار تن می‌رسد؛ از همین‌رو گفته می‌توانیم که این احصائیه‌ها دور از حقیقت می‌باشند.

همان طوری که در پیش اشاره شد، ارگان‌های بین‌المللی آمار حقیقی تلفات را نشر نکرده‌اند. در گزارش اخیر سازمان عفو بین‌الملل (امنستی انترنشنل) آمده است که نیروهای خارجی در پنج سال گذشته، به شمول زنان و کودکان ۱۱۰۰ فرد ملکی

را در افغانستان کشته‌اند. در گزارش این سازمان بین‌المللی آمده است که در مورد تنها ۱۰ واقعه‌ای که در سال‌های ۲۰۰۹ تا ۲۰۱۳ رخ داده، تحقیق کرده است.

دفتر سیاسی سازمان ملل متحد (یوناما) نیز در گزارش اخیر خود گفته است که در شش ماه اول سال ۲۰۱۴ میلادی، ۱۵۶۰ فرد ملکی کشته و ۳۲۸۰ تن دیگر زخم برداشته‌اند.

آمار برخی از ادارات بین‌المللی دیگر نیز نشان می‌دهد که تنها در سال ۲۰۱۳ میلادی، بیش از ۳۰۰۰ فرد ملکی کشته و ۵۶۰۰ فرد ملکی دیگر زخمی شده‌اند، اما بیشترین تلفات در سال‌های ۲۰۰۱ تا ۲۰۱۰ به مردم ملکی وارد شده و در سال‌های اول جنگ افغانستان نسبت به سال‌های اخیر، تلفات مردم ملکی به مراتب بیشتر بود.

شمار کشته شده‌گان نظامیان افغان، به شمول پولیس محلی، نیز حدود ۱۳۰۰۰ تن اعلام می‌شود؛ اما تعداد تلفات نظامیان افغان نیز بیشتر از این است.

از سوی دیگر، اصلاً نمی‌توان تلفات سیزده سالهٔ طالبان مسلح و سایر گروه‌های مخالف دولت، تخمین زد؛ چون در بیشتر موارد در عملیات نیروهای افغان و خارجی مردم ملکی نیز، به نام مخالفین مسلح دولت کشته شده‌اند.

ولی به طور کلی براساس آمار نشر شده از سوی برخی اداره‌های بین‌المللی، حدود ۴۵۰۰۰ تا ۶۵۰۰۰ افغان در ۱۳ سال گذشتهٔ (۲۰۰۱–۲۰۱۴) کشته و صدها هزار افغان دیگر زخمی شده‌اند.

## تلفات نیروهای خارجی

طبق آماری که از سوی وزارت دفاع امریکا نشر شده، تا سال ۲۰۱۳ میلادی حدود ۲۵۰۰ سرباز امریکایی در جنگ افغانستان کشته و حدود ۱۹۰۰۰ سرباز دیگر زخمی شده‌اند و در این مدت شمار همه کشته شده‌گان نیروهای بین‌المللی در افغانستان، به ۳۵۰۰ تن می‌رسد.

برحسب این آمار، تنها در مدت یک سال (سال ۲۰۱۰) ۴۹۶ سرباز امریکایی کشته و ۵۲۴۷ سرباز دیگر زخمی شده بودند که همین سال (۲۰۱۰)، خونین‌ترین سال برای نیروهای خارجی از آغاز حمله بر افغانستان، نیز پنداشته شد. اما حقیقت این است که شمار کشته شده‌گان و مجروحین نظامیان امریکایی و نیروهای بین‌المللی در این جنگ، به مراتب بیشتر از این آمار است.

ACKU

زمانیکه میزان تلفات نیروهای خارجی در ۲۰۱۰ میلادی به بالاترین حد رسید، نیروهای ناتو جنگ افزارهای سنگین را به خاک افغانستان آوردند و حملات خود را تشدید دادند. بناء در این سال میزان تلفات مخالفین مسلح دولت و افراد ملکی نیز خیلی بلند بود؛ اما پس از سال ۲۰۱۰ این تلفات تا حدی کاهش یافت.

ولی اینک بازی سیاسی امریکا و حملات اخیر نیروهای خارجی نشان می‌دهد که تصمیم به پایان دادن جنگ در افغانستان را ندارد. بنابراین در کنار این پرسش که پاسخگوی این همه ستم‌ها و رنج‌هایی که افغان‌ها در ۱۳ سال گذشته آنرا متحمل شدند، کیست؟ این پرسش نیز نزد افغان‌ها بی‌پاسخ است که تا چه زمانی در آتش این جنگ بیگانه‌گان خواهند سوخت و بالآخره نتیجهٔ آن چه خواهد شد؟ پایان

ACKU

**ارتباط با ما:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com – info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)